ژباړه : عبدالرحمن فرقاني ۲۰۱۰/۰۵/۱۱م

اسلامي ارزښتونه : مودودي
اومه برخه

# پر پیغمبرانو د ایمان راوړلو اړتیا:

کله چي تا ته دا مالومه شوه چي د اسلام سمه اومستقیمه لاره هغه  لاره ده کومه چي د الله تعالی له لوري پیغمبرانوبندګانوته ښولی ده, نو پدې خبره پخپله پوهیدئ شې چي پرپیغمبر باندي ایمان راوړل او د هغه اطاعت اوپیروي کول ټولو انسانانو ته ضروري خبره ده, او کوم سړی چي د پیغمبرتېګلاره پریږدي او د خپل عقل څخه کومه تګلاره را وباسي یقیناً چي هغه لوی ګمراه دی.
پدې معامله کې خلك عجیبې عجیبې غلطۍ کوي, ځوك داسي دي چي د پیغمبر صداقت مني, خو په هغه باندي ایمان نه راوړي اونه هم د هغه اطاعت اوپیروي کوي, دا راز خلك صرف کافر ندي بلکه احمق هم دي , ځکه چي د پیغمبرصداقت منل او ورسته د هغه اطاعت اوپیروي نه کولو معنا دا ده چي سړي د پوهیدو سره د درواغو پیروي کوي , ظاهره ده چي لدې څخه لوي احمق بل نشته.
ځوك وایي چي موږ ته د پیغمبر د پیروی اړتیا نشته , موږ په خپله د خپل عقل په ذریعه د حق لاره ایستی شو , دا دیره لویه تیروتنه ده , تا خو ریاضي لوستی ده او پوهیږي چي له یوه ټکي څخه تر بل ټکي پوري مستقیه کرښه صرف یوه کرښه ده , له دې پرته چي هر څومره کرښي وکاږي یا خو هغه کرښي کږي وي او یا هم هغه بل ټکی ته نشي رسیدلی , همداسې کیفیت د حق دلاره اړوند هم دي , چي د اسلام په ژبه کې ورته صراط مستقیم ( سیده لاره ) ویل کیږي , دا لاره د انسان څخه پیل شوي تر الله سبحانه وتعالی پورې رسیږي , او د ریاضي د قاعدې مطابق دا هم یواځې یوه لاره کیدلای شي , لدې پرته چي څومره لارې دي یا خو کږې دي او یا هم الله تعالی ته نشي رسیدلی , او که ته ځیرشي کومه  لاره چي مستقیمه ده هغه خو پیغمبر ښولي ده , او لدې پرته نورې ټولې لارې صراط مستقیم ندي , لدې لارې پرته چي انسانان د کومي لارې د پیدا کولوهڅه کوي  هغوئ له دو صورتونه څخه خالي ندي  یا خو دوئ الله تعالی ته د رسیدلو کومه لاره نده پیدا کړې اویا خوبيي دیره کرغیرنه او کږه  لاره  خپله کړی ده , مستقیمه کرښه نه بلکه منحني کرښه یې غوره کړیې , په لومړي صورت کي دې ده تباهي ښکاره ده ، او په دوهم صورت کي يي حماقت بربنديږي , یوه ځاي ته د رسیدلو لپاره یو بې عقل ځانور هم د کږې وږې لارې پر ځاي یوه مستقیمه لاره ګوري , نو دغه انسان ته تاسو څه وایی چي د الله تعالی یونیك بنده ده ته مستقیمه  لاره ښي خو دی وایي چي  زه ستا په مستقیمه لاره نه ځم بلکه خپل منزل ته د رسیدو لپاره  کومه کږه وږه لاره ګورم .
دا هغه خبره ده چي د یوه نظر په پایله کی هر سړي ورباندي پوهیږي , مګر که ته لږ دیر غور وکړې نو درته مالومه به شي چي کوم سړي په پیغمبر باندې د ایمان راوړلو څخه ډډه کوي هغه لره په حقیقت کې الله تعالی ته دی رسیدو کومه لاره هیڅکله په لاس نه ورځي , نه سیده او نه هم کږه د دی وجه دا ده چي کوم سړی د رېښتیني شخص د خبری له منلو څخه انکار کوي هرو مرو به د ده په دماغ کې کومه داسي خرابي وي چي  دی د ریښتیا له منلو نه مخ اړوي , یا د ده پوهه کمزورې ده , یا د ده په زړه کې تکبر دی , یا د ده طبیعت داسي کرغیړن دي چي د نیکی او صداقت دخبرو منلو ته تیار ندی , یا دی د پلار اونیکه په ړانده تقلید پسي روان دی او کومي خبرې چي له وړاندي د دود او رواج په ډول ده ته رسیدلی دي د هغه خلاف  څه ویلو ته تیار ندی , یا دی د خپلو نفسي غوښتنو بنده دی  د پیغمبر روزنه ته تیار ندي , او د دی لپاره د پیغمبر د خبرو له منلو ډډه کوي ځکه چي بیا د ګناه او نا جایز کارونو خپلواکي له لاسه ورکوي , دا ټول لاملونه داسي دي که یو د دغو په کوم سړی کې وي هغه د الله تعالی لاره نشي پیدا کولاي , او که دا راز لاملونه په کوم سړي کی نوي نو هغه هیڅکله د الله تعالی د پیغمبر د خبرو له منلو نه انکار نکوي.
له ټولو لویه خبره خو دا ده چي پیغمبر د الله تعالی له اړخه را لیږل شوی دی او دالله تعالی حکم هم دا دي چي په هغه باندي ایمان راوړل شي او د هغه اطاعت اوپیروي وشي , اوس که ځوك په پیغمبر باندي ایمان نه راوړي نو د الله تعالی خلاف بغاوت کوي.
ګوره , ته چي د کوم سلطنت رعیت یې نو د هغه له اړخه چي کوم حاکم مقرریږي ته باید دهغه اطاعت وکړې , که چیرې ته د هغه له منلو انکار کوي د دې معنا دا ده چي ته په خپله د دې سلطنت په وړاندې بغاوت کوي , د سلطنت منل او د هغه له اړخه مقرر شوی حاکم نه منل دواړه بلکل متضادي او متناقضي خبرې دي , دا راز مثال د الله تعالی د رالیږل شوي پیغمبرهم دی , الله تعالی د ټولوانسانانو حقیقي پادشاه دي , کوم سړي چي الله تعالی د نورو انسانانو د هدایت لپاره رالیږلی دی او د هغه د اطاعت او پیروي حکم یې کړی نو انسان ته پکار ده چي د نورو شیانو پیروي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

پرېږدي او صرف د ده پیروي او اطاعت وکړي , لدې څخه مخ اړونکی په هر حال کافر دي که هغه الله تعالی ومني او که یې و نه مني.

## د پیغمبری لنډ تاریخ :

اوس موږ تا ته ښیو چي په نوع انساني کي د پیغمبری سلسله څرنګه پیل شوي ده او څه ډول مخ په وړاندي روانه او بالاخره په یوه آخري اوتر ټولو لوی پیغمبر باندي ختمه شوي ده , تا خو به اوریدلی وي چي الله تعالی له ټولو وړاندي یو انسان پیدا کړ, وروسته یې لهمدغه انسان څخه د هغه جوړه پیدا کړه او د نسل تسلسل لدی جوړې څخه پیل شو او تر نن پورې روان دی , او د بې شمیره پیریو په اوږدو کي د ټولې ځمکي پر مخ دا انسا نان خواره شول , په نړۍ کي چي څومره انسانان پیدا شوی دي دهمغی یوه جوړی اولاد دي , د ټولو قومونو مذهبي او تاریخي روایت پدې متفق دی چي د انسانانو د پیدایښت پیل له همغه یوه انسان څخه شوي , د ساینس د څیړنو څخه هم ثابته شوی نده چي د نړۍ په بیله بیله برخه کي په بیل بیل ډول انسانان پیدا شوي وي , بلکه د ساینس دیر پوهان هم دا قیاس کوي چي لومړي به یو انسان پیدا شوی وي , او په نړۍ کي چي څومره انسانان دي د همغه لومړي انسان اولاده دي , ژموږ په ژبه کي له وړاندي انسان ته آدم (ع) ویل شوی لدې څخه د آدمي کلمه اخیستی شوې ده چي د انسان د کلمې هم مفهومه کلمه ده , الله تعا لی له هر څه مخکي پیغمبرآدم علیه السلام پیدا کړاو هغه ته یې حکم وکړچي خپل اولاد ته د اسلام روزنه ورکړي , او خپلي اولادې ته ووایی چي ستاسو او د ټولې نړۍ خدای یو دی , او د هغه تعالی عبادت وکړی , د هغه تعالی په وړاندی سر ټیټ کړی , له هغه څخه کومك وغواړی او دهغه تعالی د رضا سره سم په دنیا کي ژوند وکړی , که تاسي داسي وکړل نو تاسو ته به ښه انعام درکړای شي او که داسي ونه کړی او د الله تعالی له اطاعت څخه مخ واړوی تاسو ته به سخته سزا درکړای شي .

د حضرت آدم علیه السلام په اولاد کي چي کوم خلك راستکاره اوښه وو د خپل پلار په ښول شوي لاره باندي ولاړل او کوم چي بد وو هغوي د آدم علیه اسلام لاره پرېښوده , او ورو ورو هر ډول بدی پیدا شوې , چا د لمر, سپوږمی , ستریو پرستش پیل کړ, اوچا د ځانورانو , ونوو , رودونو پرستش پیل کړ, د چا سره دا فکر پیدا شو چي د هوا , اوبو, اور , ناروغي , تندرستي , او د الله تعالی د نورو نعمتونو خدایان بیل بیل دي , د هر یوه پرستش په ځانګړی توګه کول په کار دي تر څو ټول خوشحاله وي او په موږ مهرباني وکړي , لدې راز جهالت څخه بې شمیره بت پرستی او د شرك ډولونه پیدا شول , او لدې نه ډول ډول مذهبونه پیدا شول , دا هغه زمانه وه چي د آدم علیه اسلام نسل په نړۍ کي ټیټ شوي وه , بیل بیل قوتونه منځ ته راغلي و, هر قوم خپل یو ځانګړی مذهب جوړ کړی وه او د هر قوم رواجونه بیل وو, دالله تعالی د هیري سره سره یې هغه قانون هم هیر شوي و ، چی آدم علیه السلام خپلو اولادونو ته ښوولی و , خلکو د خپلو غوښتنو پیروي پیل کړه , هرډول ناوړه رواجونه پیدا شول , هر ډول ناوړه جاهلانه فکرونه پیدا شول , د بدی او نیکی تر منځ په توپیر کړلو کی تیروتني کیدلي , دیر بد شیان ښه وګڼل شول او دیر ښه شیان بد وګڼل شول .

نو ځکه الله تعالی په هر قوم کي د پیغمبرانو لیږل پیل کړل تر څو خلکو ته هغه اسلام وښيي کوم چي حضرت آدم علیه السلام انسانانو ته ښولي و , دي پیغمبرانو خپلو خپلو قومونو ته هغه هیر شوی سبق بیا ور زده کړ , د یوه خدای پرستش یی ور وښود , د بت پرستی او شرك څخه یی د ځان ساتنه په ګوته کړل , جاهلانه رواجونه یی له منځه یوړل , د الله تعالی د رضا مطابق ژوند کول یې خلکو ته وربښودل , سم قوانین یی وربښودل اود دې قوانینو پیروی ته یی خلک رابلل , هندوستان , چین , عراق , ایران , مصر , اوروپا ... خلاصه د نړۍ په مخ داسي هیواد نشته چي د الله تعالی له لوري ورته خپل ریښتینی پیغمبر نوي استول شوی , د هغوي ټولو مذهب یو وه هغه مذهب چي موږ او تاسي ورته په خپله ژبه کي اسلام وایی (۱), البته د روزنه او تربیت لاره او د ژوند کولو طریقي بیلي بیلي وی ,

---

۱ په عامه توګه خلك لدی غلط فهمی سره لاس ګریوان دي چي ګواکي اسلام د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه پیل شوی , آن تر دی چي رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د اسلام بنیان ګذار ګڼل شوی دي , په حقیقت کي دا یو لویه غلط فهمي ده چي د طالب علم له ذهن څخه باید په قطعي توګه لرې شي , هر طالب علم ته دا خبره باید روښانه وي چي اسلام همیشه او په هر وخت کي د نوع انسانی لپاره حقیقي مذهب دی , او په نړۍ کي چي هر ځای او هر وخت کوم پیغمبر راغلی هغه له ځانه سره د اسلام مذهب راوړی دی .

په هر قوم کي چي کوم ډول جهالت خور شوي و د هغه په لمنځه وړلو باندي ټینګار وشو , هر ډول غلط رواجونه چي رواج شوي ود هغه په اصلاح باندي کارپیل شوو , د تهذیب او تمدن اوعقل او علم له لحاظه چي قومونه کله په ابتدایي پړاو کي و نو دوئ ته په ساده ډول تعلیم او شریعت ښودل کیده , په کومه کچه یې چي ترقي او پرمختګ کاوه په هغه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

کچه تعلیم اوشریعت هم پراخه کیده , اختلاف صرف په ظاهري شکل کی وه , بنیاد د ټولو یو و، یعني په عقیده کې توحید , په اعمالو کې د نیکۍ او سلامتۍ رویه, او په آخرت کې د سزا او جزا اړوند یقین او باور کړل .
د پیغمبرانو سره هم انسان عجیبه معامله کړی ده , لومړی خو یې ځورول اوتکلیفونه یې ورته اړول , د هغوئ له منلو څخه یې انکار کاوه , څوك یې له وطن څخه وایستل , څوك یی ووژل , چا ته د کالونوزیار او روزنه نه وروسته د ګوتو په شمیر پیرو په مشکل پیدا شول , مګر د الله تعالی دغو غوره شویو بندګانو خپل کار په کوم ډول چې پکار وه وکړ, تردې چې د دوئ کړنلارې په خلکو کې خپل اثر وښود او لویو لویو قومونه د دوئ پیروري ومنله , له د څخه وروسته ګوراهی بله لاره خپله کړله , د پیغمبرانو د وفات څخه وروسته د دوئ امتونو د دوئ لارښونې بدلې کړلې , پر دوئ باندې په نازل شویو کتابونو کې چې د الله تعالی له لوری ورباندې نازل شوی وو خپل هر ډول نظرونه ورګډ کړل , د عبادت نوې نوې تګلارې یې خپلې کړلې , بعضو په خپله د پیغمبرانو پرستش پیل کړ, چا خپل پیغمبر د الله تعالی څیره وګڼله ( یعني الله تعالی په خپله د انسان په صورت کی را ټیټ شوي وه ) چا خپل پیغمبر د الله تعالی زوي وګاڼه , چا خپل پیغمبر په خدایۍ کې شریك وباله , خلاصه انسان عجیبې سرغړونې وکړې کومو خلکو چې بتا ن مات کړل انسان هغوی د بتانو په څیروګڼل , او کوم شریعتونه چې دغو پیغمبرانو امتونو ته ښولي وو هغه یې هم په ډول ډول بې لارې کړل , په هغه کې یې خپل جاهلانه رواجونو ورګډ کړل , افسانې اوبې اساسه روایتونو یې پکښې ګډ کړل , هغه قوانین چې انسان په خپله جوړکړلي دي هغه یی په الهي قانون کې ګډ کړل , آن تردې چې د څو پیړیو تیریدو څخه وروسته دا ستونزمنه شوه چې د الله تعالی د پیغمبر لارښونې اوشریعت وپیژندل شي , او بعضو خو په کې ګډوډې خبري یو ځاي کړلي ,( ١) ,

---

(!)دلته دا خبره د طالب العلم په ذهن کی باید ځاي پرځاي شي چې د پیغمبرانو امتونو خپل اصل مذهب چی (اسلام ) دي په خپله لمنځه یووړل او هغه مذهبونه یی جوړ کړل چې په مختلفو نمونو په نړۍ کی خپاره شول , دمثال په ټوګه عیسی علیه السلام چې د کوم مذهب روزنه او ارزښتونه خلکو ته ښولي و هغه اسلام و, خو لده وروسته د ده پیروانو د ده عبادت پیل کړ او د ده له خبرو سره یې خپلې خبري اونظریات یوځاي کړل ، هغه مذهب یې جوړ کړ چې نن عیسایت ورته ویل کیږي. په خپله د پیغمبرانو د ژوندانه د حالاتو روایت هم داسې ورك شو چې د دوئ په هکله هیڅ څه د اعتبار وړ پاتې نه شول , خو سره د دې د پیغمبرانو کوښښونه بې ځایه نه شول د ټولو ستونزو سره سره څه نا څه ریښتینوالی او صداقت په هر قوم کې پاتې شو, د الله تعالی د وجود په اړوند تصور , د آخرت د ژوندانه په اړوند تصور په یوه شکل د اشکالو په ټولو قومونو کې تیت شو , د نیکۍ ,صداقت , او اخلاقو په اړوند یوشمیر اصول په عامه توګه په نړۍ کې ومنل شول , او ټولوپیغمبرانو په ځانګړې ځانګړې توګه په ځانته ځانته قومونو کې دا چاپیریال تیارکړ چې د یوه داسې مذهب روزنه پکې وشي چې بلا شکه دټول انسانیت مذهب دي , لکه څرنګه چې وړاندی وضاحت وشو چې په پیل کې هر قوم ته په بیله بیله توګه پیغمبران راغلل , او د هغوئ روزنه اوتعلیم د همدوئ په قومونو کې محدود او محصورپاتې کیده , او د دې علت دا وه چې یو قوم له بل قومه څخه بیل وه , د هغوئ په لمنځ کې دیر تړاو نه وه , لکه چې هر قوم د خپل وطن په حدودو کې مقید وه , پداسې یوه چاپیریال کې یوه عامه اومشترکه روزنه خورول ستونزمن کار و , سر بیره پدې د مختلفو قومونو حالت یو له بله دیر توپیر درلود , جهالت دیره وده کړی وه , او له دې جهالت څخه چې کوم اعتقاد اوناوړه اخلاق راپیدا شول په هر ګوټ کی په مختلف ډول و, د دې لپاره پکار وه چې د الله تعالی پیغمبران هر قوم ته په بیله توګه روزنه او تعلیم ورکړي , ورو ورو ناوړه فکرونه له منځه یوسي او پر ځاي یې سم اوصحیح فکرونه او عقیده خپره کړي , ورو ورو جاهلانه تګلارې پیرږدي او د لوړې درجې د قانون پیروي ورته وښي ، او د دوي روزنه داسې وکړي لکه چې د وړو اطفالو روزنه کیږي , الله تعالی پوهیږي چې دا راز روزنې به څومره په زرګونو کالونه دربر نیولي وي , په هر حال د پرمختګ او ترقي سره سره انسانیت هم د هغه وړکتوب له مرحلی څخه ووت او سن بلوغ ته ورسید , د تجارت , صناعت , اوحرفت د ترقي له امله د قومونو په منځ کې هم اړیکې ټینګې شوې, د چین څخه تر جاپانه پورې او داوروپا څخه نیولي تر افریقا پورې د کیښتیو تګ راتګ او په وچه کې د سفرونوسلسله پیل شوله , په دیرو قومونو کې د لیکدود رواج خور شو , علوم او هنرونه خواره شول د قومونو تر منځ د علمي لیکنو تبادله پیل شوه , لوی لوی فاتحین پیدا شول او په مختلفو هیوادونو کې یې ځانګړي ځانګړي سلطنتونه جوړ کړل , او هر یوه قوم ته یې سیاسي نظامونه ورکړل , دا راز هغه د جدایی او لریتوب چاپیریال د قومونو تر منځ ورو ورو له منځه ولاړ او دا ممکنه شوه چې د اسلام روزنه اوتربیه ټولې نړۍ ته ولیږل شي , له نن څخه یونیم زره کاله مخکی د انسان حالت داسې وه چې هغه په خپله د یو مشرك مذهب غوښتنه کوله , بودایت اګر چې یو پوره مذهب هم نه و محض یو څو اخلاقي اصول پکې و نود هندوستان څخه ووت او د جاپان او منګولیا په لوري او بل لوري ته تر افغانستان اوبخارا پورې خور شو , او دې مذهب ته دعوت کونکي تر لرې لرې هیوادونو پورې ورسیدل , له د څخه څو پیړي وروسته د عیسویت مذهب پیدا شو , اګر چې عیسی علیه السلام د اسلام د روزنه لپاره راغلی وه خو لده څخه وروسته د عیسویت په نامه یوناقص مذهب جوړ شو، اوعیسایانو دا مذهب د ایران څخه تراوروپا اودافریقا په لرې او اوږدو ملکونو کی خپور کړ , دا حالات ښي چې د هغی وخت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نړۍ يوه عام انساني مذهب ته اړتيا درلوده , اودا قومونه دي ته تيار شوي وچې هغه نا تمامه اوناقصه مذهبونه په خلکو کی خواره کړي.

## د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم نبوت :

دا هغه وخت دی چې د ټولی نړی او د ټولو انساني قومونو لپاره د عربو په خاوره کی يو پيغمبر يعني حضرت محمد صلی عليه وسلم پيدا شوو اوالله تعالی هغه ته د اسلام مکمل قانون او روزنه ورکړله او د دې قانون په خدمت باندي مامور شو چې په ټوله نړی کی يی خپور کړي.
د نړی نقشه راواخله او ويی ګوره , په يوه وار کتلو به درته په ډاګه شي چې د عربو له خاوري څخه بل موزون ځاي د نړی د پيغمبری لپاره نشي پيدا کيدلی , دا هيواد د آسيا او افريقا په منځ کي واقع دی , او اوروپا هم لدي ځايه ديره لرې نده , سربيره پدې په هغه وخت کي د اوروپا په جنوبي برخه کي پرمختللي او متمدنه قومونو ميشت شوي و، او د اورپا دا برخه دې ځايه ته دومره لنډه ده څومره چي هندوستان ورته لنډ دي .
بيا د هغي زماني تاريخ ولول , تا ته به روښانه شي چې په هغه زمانه کي د پيغمبری لپاره تر عربو موزون قوم بل قوم نه و , نورو لويو لويو قومونو د زور آزمايی په پايله کي خپل زور او توانايی له لاسه ورکړی وه ، او د عربو قوم هغه مهال تازه نفسه قوم و , د تمدن او ترقی له امله د نورو قومونو عادتونه اورواجونه ناوړه شوي و او د عربو په قوم کي داسي کوم تمدن نه وه چي د دوي مينه د ماديت ژوند ته را وپاروي او رذالت ته يي راکاږي , د شپږمی پيړی عيساي عربان دهغي زماني د متمدنو قومونو له ناوړه اثر څخه بلکل پاك و , په هغوئ کي ټولی هغه انساني ښيګني شته وې چې په يو داسي قوم کي موجودي وي چي د متمدنو قومونو هوا نه وي ورته رسيدلي , هغوئ بهادر وو , توريالي وو, د عهد او پيمان پابند وو , آزاد پسند او د خپلواکی خوښونکی وو , د هيڅ قوم غلامان نه وو , په خپل عزت باندي ځان قربانول دوي لره ساده وو , دير ساده ژوند يي درلود او د عيش او عشرت څخه بيګانه وو , پدې کی شك نشته چي په دوي کي ديرې خرابی هم وي چي وړاندي به درته روښانه شي خو دا خرابی د دې لپاره وي چي له يو نيم زره کاله راپدې خوا دوي ته کوم پيغمبر نه و راغلي (١) او نه هم داسي کوم لارښود په دوئ کي پيدا شوي وه چي د دوي اخلاق سم کړي او دوي ته تهذيب وښي , له پيړيو څخه راپدې خوا په ريګستان کي د خپلواك ژوندکولو په پايله کي په دوئ کي جهالت خور شوي و , او دوئ په خپل جهالت کي دومره ټينګ شوي وو چي د دوي انسان کول د کوم ساده سړي د وس کار نه وه , خو سره لدې په دوئ کي دا قابليت و چي که چيري کوم يوه سړي د دوئ روزنه او تعليم وکړي او که دوئ د کوم لوي هدف لپاره را ولاړ کړي نو دوئ کولی شي چي نړی تسخير کړي , پيغمبر صلی الله عليه وسلم په نړی کي د اسلام د ارزښتونو د خورولو لپاره هم داسي ځوان او طاقتور قوم ته اړتيا درلوده .
لدې وروسته عربي ژبه وګوره , ته چي دا ژبه ولولي او د دې ژبه ادب مطالعه کړي نو به تا ته روښانه شي چي د لوړو فکرونو د انځوړولو لپاره او د خدايي د علم د هغو نازکو اوباريکو خبرو لپاره چي په زړونو کي اثر پيدا کوي بله موزونه ژبه نشته , د دې ژبی په وړو وړو جملو کي لوي لوي مضمونونه ادا کيدلاي شي ,

---

(!) د حضرت ابراهيم عليه السلام او حضرت اسماعيل عليه السلام زمانه د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د زماني څخه يونيم زره کاله وړاندې تيره شوي ده , پدې اوږده موده کي هيڅ پيغمبر په عربانو کي ندي پيدا شوي .
او پدې مضمونو کي داسي طاقت او زور وي چي د تير او نيشتر په څير اثر کړي , داسي شريني او کشش پکي وي چي غوږنه يي په خوښي اروي , داسي نغمه پکی وي چي انسان يي د بي واکی په څير د اوريدو رغبت ښي , د قران لپاره د همداسي ژبی اړتيا وه .
نو پدې کي د الله تعالی دا دير لوي حکمت نغښتي دی چي د نړی د پيغمبری لپاره يي د عربانو خاوره ټاکلي ده . په راتلونکي برخه کي به ان شا الله وګورو چي هغه مبارك ذات چي الله تعالی د دي کار لپاره غوره کړي دی څومره بي ساريه ذات دي.

ستاسو د دعا په هيله


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ